# پاس سپوږمۍ ده
# لاندې ته یې

## دعلم ګل سحر دشعرونو ټولګه

Download from:aghalibrary.com

# غزل

نظر مې شي ستو مانه، بیرته ستا رخسار ته راشي
بې کوره مسافر دی، نا اشنا دیار ته راشي

په سترګو کې ځای نه لري، په زلفو کې دې ورک شي
یو سترې کلیوال، تیاره ماښام بازار ته راشي

د ژوند لوبه بایلي، خو په ګډا ځي د مرګ خولې ته
تش والوزي هوا ته، مرغۍ بیرته مار ته راشي

یتیم چې په ژړا شي، میره بیا ځپیړه ورکړي
ماشوم که څوک خپه کړي، په ژړا به پلار ته راشي

هنداري ټولې ماتې کړي، څو کاڼي دلته پریږدي
یو څو لیونیان ووځي، یو څو بیرته ښار ته راشي

په کور کې څراغ نه لري چې کښیني رڼا ته
چې توره شپه خوره شي، سحر ځکه یار ته راشي

1381/1/11

وزیر اکبر خان مینه

# غزل

زمونږ وطن ته لوګي مخکې، رڼا وروسته راځي
اول ژړا وي فرياونه، خندا وروسته راځي

وسلې راوليږي او غلي راته ووايې چې:
د ډوډۍ غم مه کوئ، دغه سخا وروسته راځي*

هغه سپوږمۍ ده، خو سپوږمۍ غوندې تنها نه راځي
ترمخ يې ډار د بيرته تلو وي او دا وروسته راځي

په کوموګلو به ستا مينه ماتومه ګلې
سپرلي راځي، خو وايې ښکلې ترتا وروسته راځي

د تسبو لړ نه يوې ښکلې ته اميل جوړې
لمونځ قضاء کيږي، نيت تړئ چې ملا وروسته راځي

يتيم ماښام پورې په خاورو کې لوبيږي وايي:
يوازې نه ځمه خپل کورته، بابا وروسته راځي

دوی وايې وکړئ ګوزاره له ښامارانو سره
ډير زورور دي، کوه طور نه امساء وروسته راځي

1383/1/16
وزير اکبر خان مينه - ازادی راډيو

* د درويش دراني له يو شعر نه په الهام

# غزل

په تورتمونو ، په اورونو کې لار روغ پاتې یو
ترکاڼي کلک یو ، توپانونو کې لا روغ پاتې یو

هره خوا کرکه وه ، کینې وې ، مونږ به مینه کړله
عجبه نه ده ؟ امازونو* کې لا روغ پاتې یو

بیرغ د مینې مو په هیڅ جګړه کې ښکته نه کړ
له دې سببه په تیغونو کې لا روغ پاتې یو

دا ښکلې هسې له مونږ مخ اړوي ، ځان کنجوي
مونږ یې په روح ، مونږ یې په زړونو کې لا روغ پاتې یو

سرو اننګیو ته یې ګورو ، خو لانه پرې سوځو
په دومره ښکلو او حسینو کې لا روغ پاتې یو

که مومن خان دې چیرې ولید ورته ووایه چې:
مونږ د ښامار تیرو غاښونو کې لا روغ پاتې یو

مخامخ خاندي او له شا مو په خنجر ووهي
سحره ! مونږ داسې وختونو کې لا روغ پاتي یو

---

* د امازونو په قام په لرغونو زمانو کې دښځو یو قام و ،چې خپل نارینه اولادونه به یې په ځوانئ کې وژل او لوڼې به یې د جګړو لپاره روزلې.

# که ښکلې نه وای؟

که ښکلې نه وای
زمونږ ژوند به څه و
په څه امید به موږ به ژوند کولو
په کومه هیله به ژوندي پاتې وو
که ښکلې نه وای
لمر به څومره یخ و
لمر به تیاره و
او سپوږمۍ به نه وه
که ښکلې نه وای
نو په بڼ کې سرو غوټو به څنګه
داسې موسکا کوله
او سره ګلونه به په څه غوړېدل
د لمر ګلونو به نو کوم پلو ته
داسې په ځیر-ځیر کتل
که ښکلې نه وای
دا اسمان به په دې ښکلو ستورو
تر دې لا هم مغرور و
ځکه هغه وخت به یوازې اسمان ستوري لرل
که ښکلې نه وای
دا جګرې به تر دې هم ګرمې وې
د هر چا زړه کې به د کرکې اور و
د هر چا زړه به له ژوندونه تور و

که ښکلې نه وای
نو د شعر پري به
له کومه لوري الهامونه راوړل؟
که ښکلې نه وای
زمونږ ژوند به څه و؟
په کوم امید به موږ ژوندي پاتې وو؟

1372\7\17
پکتیا ،د زرملي اسلام خیل

# يو غمی د سيند په تل کې

يو غمی د سيند په تل کې رانه ورک شو
نه پوهيږم په څه چل کې رانه ورک شو

اننګو کې دې زما د کتو فصل
ته وکيدلی و ، په ګل کې رانه ورک شو

يو شين خال به مې نمانځه هميش په زړه کې
ستا خواره واره اوربل کې رانه ورک شو

د شانې خوله کې زما ارمان نيمګړی
د هغې د زلفو ول کې رانه ورک شو

د نيرون* په هوسونو کې لاهو شو
خوږ کابل مې په کابل کې رانه ورک شو

1382\8\6

**پکتيا ،زرمت-اسلامخيل**

* نيرون،د لروغوني روم يو با الهوس امپراتور و،چې د روم ښار ددهٔ د هوس په ليمو کې وسوځيد،چې بيا دا متل مشهور شو:از دست يک شوم-سوخت شهر روم

# د اننګو پسرلی

چې په دې ښار کې نازولو سره مینه کوو
لکه په ځوځو کې له ګلو سره مینه کوو

ژوند خو به خود په اشارو او کنایو تیروو
درقیب خوا کې چې له ښکلو سره مینه کوو

نه غوټۍ غوړیدې بڼ کې، نه ګلونه وینو
هسې سپرلي کې له بمبلو سره مینه کوو

د اننګو د پسرلي په هیله–هیله سوځو
ځکه لمبو کې له سوځلو سره مینه کوو

کمځۍ-کمځۍ زلفې دې څه دومره په ناز اړوې
مونږه د دار پر سر زانګلو سره مینه کوو

په نورو اوري یې د شونډو د سپرلي ګلونه
مونږ بد نصیب یې تش لیدلو سره مینه کوو

1369\8\3
کابل پوهنتون

# مینه کې څومره فرق وي

زه یې په زرو له میکدې وایستم
او ته په خپله خوښه
له هغې ښکلې کعبې بیرته راغلې
نو
زاهده ووایه اوس
زما او ستا مینه کې څومره فرق دی؟

1372\7\22

# غزل

نور به يې په لوري موږ کاته پريږدو
موږ که ترې نه ځو ورته خپل زړه پريږدو

ځئ له دې بې روحه ښاره کډه شـــو
سترې ارمانونه ميلمـــانه پريږدو

شيخه که پردې مو ګناهګار بولـــې
موږ به خپلې ږيرې ترنامه پريږدو *

مه کوه ګوزار د درو مـــه کوه
نور به د سندرو اوريده پريږدو

راشي د ټوپک له خولې پيغام داسې
وژنو يې له سره کله مـړه پريږدو

دا وطن خو ښکلی دی جنت دی خو
موږ به يې له لاسه د يوه پريږدو

۱۳۷۸/۱۱/۲۰
کابل- ښارندوی مينه

---

*دغزل سالار استاد محمد صديق پسرلي له يوه شعر نه په الهام

# ورک ارمان

زه پر اغزیو باندې اوسم او دا هیڅ نه وایي
مینه ارزانه ورته ښکاري، اشنا هیڅ نه وایي

زه چې یې سترګو نه دورک ارمان پوښتنه کوم
یا یې په ټنډه ګونځې راشي او یا هیڅ نه وایې

چې راته ګرانې نه دې ،مینه پسې مرې دي زما
چې په ما ګرانه ده، هغه دلـــربا هیڅ نه وایي

د ملـــغلرو منځ کې ورشم، دیو تار په ښه
تر سپینې غاړې یې چاپېر شم دالا هیڅ نه وایي

د زړه ازار لـــپاره راشي ،لکـــه ته ولاړه شي
له ګل نه شته خوشبویي یوسي ،هوا هیڅ نه وایي

د خدای په مینـــه یې د سترګو تـــلاوت کومه
دا مې ګناه شوه ،که ثواب شو ،ملا هیڅ نـــه وایي

امان الله !ستا غوندې نه دی چې به غم خوري زمونږ
بس ګوزاره کوي، ژوندی دی ،پاچـــا هیڅ نه وایي
هر سحـــر غوږ یم ،بلبلان ذکـــر د ګلو کوي
حیران په دې یمه، چې ښکلې له تا هیـــڅ نه وایي

۱۳۸۳/۴/۱۲

## درنا تناب

ته یې سپیڅلې !
ته اروا دمریم
ته لکه پرخه په ګلپاڼو باندې
ته لکه وړانګه پاکه
ته دبلبل اوښکه یې
روح دې مینځلی
دزمزم په اوبو
ته یو احساس، ته عاطفه یې ګلې !
ته له ګناه پاکه یې
خو دلته هرپلو ګناه ده ګناه
لکه چې ته دلته بې وخته راغلې
لاخو کینې دي،
لاخو کرکې خورې
لاخو دمینې جامې رنګ دي
دګناه په وینو
لادقابیل هابیل کیسه ده
دهرچا په ژبه
او دبلقیس او سلیمان مینه
له ټولو هېره
ځمکه فساد نیولې
اسمان کې وربڅې دي دکرکې خورې
لادیزید توره
ریبې سرونه

لاخو دهرچازړه کي کرکه شنه ده
لاخو دهرچازړه کي بل، دانتقام اورورنه
لاخو په مينه هيڅوک نه پوهېږي
نو دامنې راسره؟
چې ته بې وخته راغلې
دې دنفرت نړۍ ته
ته چې دچازړه کي کينه ووينې
داستا په سترګو کي دوير فصل
راوټوکيږي
تاته دزور او زرو سترګې ټيټې
ته دقارون، ته دپاچا ، ته دجابر
له څنګه تېره شې
موسکۍ شې وايې
عجب ساده خلک دي
دومره په زور او زر مغرور ولې دي
ته دسندرو سيپارې
په مينه-مينه لولې
ته لکه زه په يوه ورکه پسې يتږې ښکارې
مينه، مينه، مينه !
اوه ، نه پوهېږم
ښايي دا هم ستړې وي
ښايي چې مينه هم
تيارو کي سرګردانه ګرځي
ديوه زړه په لټه
داسي يو زړه چې کرکه نه پېژني

چېرې به وي؟

نه پوهیږم، نه پوهیږم

*****

ته یې سپېڅلې !

ته اروا د مریم

ته یوه پاکه فرشته یې ګلې !

ګوره ابلیس مینې ته خاورې شیندي

د فرښتو دلارښوونې

خوب یې بیا لیدلی

ابلیس د مینې دښمن

فرښتې تا ته وایم

له خپلو ښکلو شونډو

دولاحولو توري مه غورځوه

ابلیس لباس دي

کله- کله په بدل لباس کې

راشي د کرکې او ګناه تخمونه وشیندي، ځې

په لباسې خندا یې مه غولیږه

چې ولاحولودرنه هېره نه شي

ایت دمینی تل په ځان چوف کوه

ابلیس په سپین لباس کې راشي

فرښتو ته لار ښوونه کوي

ابلیس د مار زهر

د مینې په پیالو کې راوړي

نو

فرښتې تا ته وایم

اعوذ بالله او ولاحولو

تل پر شونډو لره

*******

ته يې سپېڅلې !

ته اروا دمريم

ته يې دنور لاربنوده

زه دې چې سترګو ته په ځېر ګورمه

ماخپل ارمان ورک کړی

زه دي په ښکلو شرابي سترګو کي

درنالارې ګورم

او

زما دعقل بېړۍ

د استادښکلو سترګو

د سمندر په توپاني څپو کي

غرقه ښکاري

اوزه تيارو کي بندي

په تروږمۍ کي

له برهوت څخه فرياد کومه

ته په وړانګينو لاسو

دادرنا تناب راخورکړه

مادرواخله ښکلې

چې دې نفرت- نفرت جهان کي مې

نور زړه تنګ شوی ! ! !

۲۹ جون ۲۰۰۴ وزير اکبرخان مېنه

# یوازې ستا لپاره

له زړه مې ټولې کړکې وا یستلې
اوس مې له ښکار ځنې توبه کړې ده
اوس له کاریز نه بغدادي کوترې نه کټوم
او بس تمامه ورځ لګیا یم
په دامونو کې مرۍ پېیمه
سپینو کوترو ته پایزېب جوړوم
اوس دبې موره وري له اوښکو نه
شراب جوړوم
او په سخت زړو یې ارزانه پلورم
چې یې له زړونو کینې کډه وکړي
له زړه مې ټولې کرکی وا یستلې
اوس مساپر په کاڼو نه ولمه
اوس ګلان نه شکوم
له لارو نه اغزي ټولوم
په لاره تلونکی ماشوم ښکل کړم
د سپین ږیري بوډا لاس ونیسم
له زړه مې ټولې کرکې وا یستلې
اوس له دښمن نه کسات نه اخلمه
اوس دغومبسو کور په خټه باندې
نه پټوم
په مار دکاڼي ګوزار وکړم
خو خطا یې ولم

بس هسي ځان ترې ژغورم
هغه هم هسي د رحمان* دیارانې په خاطر
اوس له خوبونو مرور یم
ټوله شپه په تلاوت تېروم
او د قرآن زرینو پاڼو کي
یو نوم لټوم
له زړه مي ټولې کرکې وایستلې
اوس مي ټوپک پر اوږه نشته
او له میل نه یې شپېلۍ جوړه ده
په کي د مینې ترانې غږوم
دا ټول دا ستا لپاره
ځکه دوئ وایې
په جنت کي حورې ستا غوندې دي

---

- زموږ په سیمه (زرمت) کي خلک په دې باور دي ،چې که څوک مار ووینې،باید حتماد کاڼي ګوزار پرې و کړي، کنه رحمان بابا خپه کیږی دوی وایي چې رحمان بابا په دې اړه فرمائلي دي

چې څوک وويني مار- او پرې ونه کړي ګوزار-هغه نه دی زما یار.

## وخته راوګرځه

مورې دا ډېره موده
دیوه - بل پرلوري
ستړي مزلونه کول
څو مره شپې تېرې شوي
څو مره کلونه تېر شول
څو مره وختونه تیر شول
ښايي اروا وې زمونږ
له مونږ نه هم ستړې وې
ښايي اروا مو دیو- بل په لورې
ان څو پېړۍ دمخه
دیوه- بل په خوا مزلونه کول
خو مونږ دا اوس یو- بل ته ورسېدو
چې مو ځانو ته پام شو
وخته !
وخته ته تیر وې رانه
وخته نو دومره ژر بیا ولي ولاړې
مورږ خو مینه هم ونه لیدله
زمونږ خو ټول ژوندون سفر و ، سفر
دومره سفر چې ان لا تا به هم لیدلی نه وی
اهای، تاته وایم
وخته ناري مې اورې؟
وخته لږ ودرېږه
او لږ په شا راشه

زمونږ لپاره
او که راونه ګرځې
زمونږه دواړو آه به
تا هم په خپل ځای باندي ودروي
چې بیا به هیڅکله مزل ونه کړې
او بیا به داسي بې پروا
له مینانو ځنې نه تېرېږې
اهای !
ناري مې اورې ، که نه
وخته راوګرځه
لږ ودرېږه
وئ !
وخت هم مغرور دی
هیڅ راګوري هم نه
دومره په بېړه درومي
لکه چې دی هم په مین پسې ځي

رحمان مېنه، کابل
۱۳۸۳/۳/۲۸

## زړه

پرون نړېدې و
زړه مې ودربږي
بې مخه ښې بله ورځ ولاړه نه شي
بيا به تاوان د خپلې ورکې غواړي
دازړه خو ستا دی
څه زما خو نه دی

کلوله پشته
/۱۳۸۳/۷

1371لمريز کال و ،مور مې ميرانشاه ته ولاړه چې تر ځوارلسو کلونو وروسته خپل دوه ورونه اودوې خوېندې ووينې.مور مې لانه وه خبره چې دواړو ورونو او يوې خورېې لادمخه له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړي وې او بله خور يې په بل ښار کې اوسيده.

دلته په کابل تنظيمونو اوربل کړی و ،زه هم ددغو اورونو په لمبو کې ايسار وم.يوه مياشت وروسته دمور له مرګه خبر شوم.او دګوليو په باران کې له کابله ووتم.پرمور مې يې دمهاجرو په هدېره کې خاورې اړولې وې هغې دژوند په وروستيو شيبو کې زه او او خپله مشره خور،چې په هغه ورځ د(بنو )له ښاره ددې ليدو ته راروانه وه،ډېر يادکړي وو ،خو مونږ يې ونه ليدو.دمور دغسي پرديس مرګ مې پر زړه داسي پرهر جوړکړ،چې ټول عمر به ترې وينې بهيږي.دمور تر قبر مې سپينې ډبرې راتاوکړي ،چې سبا رانه ورک نه شي.دبيرته راتلو په وخت کې مې تر خولې داسوې نارې ووتلې .

زما معصومې مهربانې مورې

زماپر سر دې کړاونه ليدل

سختو شيبو ته شوم يوازي پاتې

ما په ارام دژوند خوبونه لیدل

دمزار خاورې ښکلوم درنه ځم

تا په پردي وطن سپارم درنه ځم

***

مورې په زړه دي ارمانونه لرل

تازما ژوند ته امیدونه لرل

زما شیبې په خوشالۍ تیرېدې

خو تا په زړه کې ډېر غمونه لرل

په هیلو خاورې اړوم درنه ځم

تا په پردي وطن سپارم درنه ځم

***

مورې ته هم شوې مسافره رانه

په دې دنیا کې مې نور څه پاتې شول

که خوشالې وه خو له تا سره وه

ځو مره غمونه میلمانه پاتې شول

سترګې به چاته اړوم درنه ځم

تا په پردي وطن سپارم درنه ځم

***

موري ورړه مينه به تا غواړي اوس

شغله دې مينه او موسکا غواړي اوس

ستا چې وروستو شيبو کې تل يادېده

کوچنۍ ګلپاڼه به انا غواړي اوس

پرسر مې خاوري بادوم درنه ځم

تا په پردي وطن سپارم درنه ځم

***

موري خپه نه شې ما ونه ليدې

زه د قسمت په زولنو کې بندي

وروستی ديدن مې يو ارمان پاتي دی

وم د تيارو تورو شيبو کې بندي

وروستۍ دوعا درته کوم درنه ځم

تا په پردي وطنم سپارم درنه ځم

1371 . 12.19

پښتونخوا ميرامشا دماچسو کمپ هديره

# غزل

څومره ډېر مې خپل جانان راباندې ګران دی
لکه ځان لکه ایمان راباندې ګــران دی

لکه خپلــه خوږه ژبــه راتــه ګرانه
لکه ګران افغانســتان راباندې ګـران دی

زه یو تږی لاروی یمــه د مــینې
درنــو اوبــو په شان راباندې ګران دی

ماشو مــتوب دی، هو سېږم یې ځــلا ته
لکه ســتوری د اسمان راباندې ګـران دی

دوی حیران دي چې په تا ولې مــین یم
داخو ځکه چې انسان راباـندې ګـران دی

۲۴/ ۴/ ۱۳۸۳ ښارندوی مېنه، کابل

# نوبل د ښکلو حق دی

دوی جائزه د نوبل چا ته ورکړه
یا زورور، یا یې پاچا ته ورکړه
چې یې یو ازې په خبرو مینه وستایله
چې یې یو ازی په خبرو کرکه وغندله
هغو چې جنګ یې کاوه ویې نه کړ
چې د څه وخت لپاره لیرې و
د جنګ له شره
دوی اتلان د سولې یاد کړل هغه
خو !
شکلې چې ذهن نه جګړې ورک کوي
چې مو د زړه په دښته مینه کري
چې ببرته ژوند راکوي
له شاعر پرته چا ونه ستایلې
شاید چې نوبل کله ښکلې هم لیدلې نه وي
چې یې باروت یادول
بیا یې چې ښکلې کله ولیدلې
نو ټول ویاړونه یې د مینې ترنامه قربان کړل
ټولې بریاوې یې بشر ته ورکړې
ښایي دوی هېره وي اصلي خبره
ها چې الفرډ د ځنکدن وروستو شیبو کې وکړه
- نوبل د ښکلو حق دی
-نوبل د ښکلو...ښکلو....ښکلو حق دی

دوی جایزه دنوبل چا ته ورکړه
یازورور، یا یې پاچا ته ورکړه
بیا به یې ومنم چې دوی مینه او سوله غواړي
که یې داځل جایزه تاته درکړه

۱۳۸۳/ ۴/ ۱۹
وزیر اکبرخان مېنه-ازادی راډیو

# له مينې تېښته

ملا حيران ولې شوې
ماته تعويذ وليکه
زه مينه نه کومه
ملا يو داسې تعويذ راکه
چې دزړه دروازې
پرمخ دمينې باندې وتړي ،
دتل لپاره
زه مينه نه کومه
مينه پاللی نه شم
زه يې لايق نه يمه
دلته په مينه هيڅوک نه پوهېږي
ذلته له چا سره څوک مينه نه کړي
او مينه کفر بولي
که څوک خبر شول چې له ښکلو سره مينه کوم
زما انجام به څه وي
زه مينه نه کومه
ملاحيران ولې شوې
ماته تعويذ وليکه
ملالګيادی
دکتاب پاڼو کې
دکرکې توري ګوري
لکه چې نه يې مومي
***
ملاتعويذ وليکه

زه مینه نه کومه
مینه عذاب ده
مینه نه کومه
خو مینه نه پرېږدي ما
مینه په ما پسې ده
او زه ترې منډې وهم
خدایه ! په کبر کې یې مه کړې حساب
زه کبرجن نه یمه
مینه پاللی نه شم
لایق د مینې نه یم
زه مې کینې ته د زړګي دروازې
خلاصې پرېږدم
حو کینې راشي ،بېرته ووځي
زړه کې ځای نه مومي
ځکه چې هر ورځ زه ښکلې وینم

۱۲/ ۵/ ۱۳۸۳ کابل- خیرخانه مېنه

## درنا ځړیکه

تیارو کې ځړیـــــکه درنا وه ،ماوې ته یې هغه
سپوږمۍ کې پاتې څه ځلاوه ،ما وې ته یې هغه

پوه نه شومه دوی وې ملایکه راغله، بېرته ولاړه
باران و ،تالنده ،برېښـــــنا وه ،ماوې ته یې هغه

راته موسکۍ وه او زمـــا په زړه یې لاس ایښی و
دزړه مې بل رنګه درزا وه ،ما وې ته یې هـــغه

جنت نه راغلم، حورې ټولې وې حـــــیرانې راته
ترغوږ مې ستا غوندې خندا وه ،ما وې تـه یې هغه

زه وم څـــــېره مې وه ،خو لیرې تښتید له رانه
زمـا له تن څخه جـــــلا وه ،ما وې ته یې هغه

۲۹/ ۵/ ۱۳۸۳ - دکابل هوایي ډګر

# بابا ته

بابا موږ ستا لاره بیا وپالله
موږه هم ستا پرلاره پل ایښی دی
موږه هم ووتو جنته ځنې
په دغه فرق
تا غنم وخوړل، جنت نه ولاړې
موږ ستا داولاد له ظلمه تنګ شوو
په غنم پسې دوزخ ته ولاړو
او اوس دوزخ کې په یوه ګوله مړۍ پسې
ستومانه ګرځو !!!

پاکستان ،کراچۍ ،کلفټن
۱۴۲۰ هجري قمري د اختر دریمه ورځ

# له مینی ها خوا

دا خلک هسي وا یي
زه په تا نه یم مین
په ما نازونه مه کړه
هسې دې سترګو ته په ځیر ګورمه
زه دې په سترګو کې
دمینې اسم اعظم لټوم
زه دې په سترګو کې
زما ورک شوی خوب لټوم
زه دې غومبورو کې
ورک شوی زلمیتوب لټوم
هغه چې راغی
داوبو په شانې تېر شو رانه
دا خلک هسې وا یي
زه په تا نه یم مین
نازدې پر نورو وکړه
زه دې میګونې شونډې نه ښکلوم
زه مې دژوند دکتاب
اخري فصل لیکم
په هغه فصل کې دژوند او مرګ سوالونه ډېر دي
غواړم له تا یې زده کړم
زه دکینې مینې ځېړنه کوم
غواړمه پوه شم چې انسان ولې دښمن دی دځان

ولې د بل له وینو خوند اخلي دوی
ولې دې دومره انسانانو
دیوه د خوشحالۍ لپاره
سرونه لاس کې دې نیولي
او رېبي سرونه
ښایي د اراز ومومم
د استا د سرو سرو اننګیو خیال کې
هغه چې خپله یو ظالم پاچا دی
هغه چې خپله هم دستورو لو کړي
زه په تا نه یم مین
د اخلک هسې وايي
زه دې میګونې شونډې نه ښکلوم
په ما نازونه مه کړه
زه د ښکلا د فلسفې شاګرد یم
غواړمه پوه شم
چې دا دومره لیرې- لیرې خلک
څنګه نژدې او څنګه خپل شي سره
دومره نژدې شي، نژدې
چې په یو- بل کې حل شي
کټ مټ ماو تا غوندې شي
ښایي د استا خمارو سترګو کې د اراز ومومم
ځکه خو د اسې په کې ورک یمه ،ورک
د اخلک هسې وايي
زه په تا نه یم مین
او که مین یم ،ستا پر روح مین یم

بس ستا دروح په بڼ کې
لکه وږمه د سحر
ګلان د مینې سپړم
زه دې میګونې شونډې نه ښکلوم
داخو ګلان دي
زه د ګلو پاڼې نه رژوم
زه دې په شونډو کې سپرلي لټوم
چې لا تراوسه مې لیدلی نه دی
ځکه خو داسې لالهانده یمه،
په ورکو لارو
له مینې هاخوا
ستا دروح کتاب کې
زه خپلې ورکې خاطرې لټوم
اودوی مین ګڼې ما
هغه هم داسې ،لکه نور مینان
هه،هه،هه،هه
عجب ساده خلک دي !

۱۳۸۳/۱/۴ وزیر اکبر خان مینه

# خوب رانه هېر وي

زه له سهاره تر ماښامه پورې
تاته شعرونه لیکم
خوب رانه هېر وي
ته مې یاد یې
کاغذو کې دې تصویر لټوم
کله دې سترګې، کله خال
کله دې شونډې ستایم
تاته په پټه زه شعرونه لیکم
دغه د مینې شبنامې په ویره- ویره لیکم
که څوک خبر شي
چې له تا سره زه مینه لرم
تاته شعرونه وایم
ماته به څه و وایي
تاته به څه نوم درکړي؟
دلته خو مینه او ګناه په یوه کاڼي تلي
دلته په هیڅ هیڅوک نه دي مین
چې زما درد احساس کړي
دلته د چا زړه، د ښکلا تندر وهلی نه دی
دلته ړانده دي خلک
څوک چې بینا دي، یا خو ما او یا خو تاته ګوري
او د تهمت رنګونه ویشي وړیا
***
شپه وي ،تیاره وي

او نور ټول ویده وي
زه دې تصویر سره خبرې کوم
قلم را واخلم درته شعر ولیکم
چې خوښ مې نه شي
کاغذ څېري کړمه
خو ستا څېره راته موسکۍ شي
او سوکه وو ایي
عجب ساده سړی دی
چا ته شعرونه لیکي؟
بیرته راټولې د کاغذ وړې ټوټې کړم سره
او بیا بل شعر ولیکم
خوب رانه هیر وي
بیا سندرې اورم
هره سندره کې بس تا ګورمه
ټولې سندرې ویل شوې تا ته
ټولو ستا یلې یې ته
خو
د دوی یو ازې ستا ښکلا ته پام وي
او بس یو ازې دې ښکلا سره جفا یا دوي
دوی ستا غمجنه څېره نه یادوي
ستا خوږو سترګو کې دویر دنیا لیدلی نه شي
قلم را واخلمه ،غزل ولیکم
ورپسې بل وي او بیا بل ولیکم
خو ستا ځیره مې انځور کړي نه وي
چې شپه سبا شي

رڼايې خوره شي

***

سهار چې تا ووينم
نو راته وايې
رنګ دې ژېړ ولې دی؟
سترګې دې ولې پړسېدلې دا سې
بس له ماښامه تر سهاره پورې
ويښ پاتې وم
ولې ناروغ خو نه يې؟
نه،هسې خوب و تښتېدلی رانه
تاته ويلای نه شم
چې ستا لپاره
له ماښامه تر سهاره پورې
ويښ پاتې يم
خوب رانه هير وي
ټوله شپه تاته شعرونه ليکم

۲۳/ ۴/ ۱۳۸۳ وزير اکبرخان مېنه-ازادۍ راډيو

## دخوبونو ښاپېرۍ

په دې ښار کې یوه ته یې او بل زه یم
ته یې وړانګه او له تا سره مل زه یم

دا نور هسې د پیسو لپاره ژوند کړي
چې یې ژوند د عشق لپاره دی ،تل زه یم

چې مې زړه ته رانږدې یې ،اول ته یې
چې یې تا ته زړه در کړی ،اول زه یم

دژوند پاڼې مې شهیدې شي چې نه یې
ته باران یې او په دښته کې ګل زه یم

ستا خوب وړې سترګې خومره را نږدې دي
ښایي ستا د تورو سترګو کـجل زه یم

رقیبان مې د تهمت په غشو ولي
ته به وایې د دې دور کابل زه یم

چې پر موږ باندې وا کمن شي نو ظالم شي
بیا نو وایي چې بس ستا سې عمل زه یم

بیا قاضي دی کوم کمزوری په دار کړی
ښه خبر دی چې د سرو شونډو غل زه یم

ها چې ولاړه ،ښاپېرۍ وه دخوبونو
داپه خاورو کې چې پروت دی ،داپل زه یم

هر سحر لکه وږمه لګې چې راشې
ګوره پام کړه ،ژېړه پاڼه دګل زه یم

## غزل

خدایه چې غواړم یې، هغه راځنې لیرې ګرځي
ټول راتږدې دي، خو یوه راځنې لیرې ګرځي

که ګلاب نه یمه، دپوندې اغزی هم نه یمه
حیران په دې یم چې وږمه راځنې لیری ګرځی

زه دخپل ځان پرخوا روان یم ، رسېدلی نه یم
په دې سفر کې مې سایه راځنې لیری ګرځي

زما په زړه خو هسې هم بله لمبه دمینی
په کار مې نه ده ،که ډېوه راځنې لیرې ګرځي

ارمان مې ستا له اننګو په ژړا ته، ویل یې
کاڼی درود یم ،آئینه راځنې لیرې ګرځي

۱۳۷۳/۳/۷ خارندوی مېنه ـ کابل

# خو ته به نه وې

لکه چې ستا نه هېر دي
لاډېر کلونه وړاندې
په يوه بله زمانه کې موږه
سره مېن وو دواړه
هغه وو نورو ختونه
هغه وخت کرکه هيچا نه پېژنده
کينه له سره پيدا شوې نه وه
هرخوا د مينې واکمنې چليده
ته وې مينه پرما
او زه مين وم پرتا
لکه چې هېر دي درنه
هغه مهال يادوم
چې داتورزړي خلک نه وپکې
دمينې نوم به په درنښت ياديده
مينه به ټولو عبادت بلله
خو موږه نه پوهيدو
چې وخت بدليږي ورو-ورو
ددې وختونو سيلۍ
ناڅاپه راغله پرموږ
موږه يې بيل کړو سره
ته رانه ليرې ولاړې
ماله خپل ځانه ستا دتللو خبر پټ وساته
خو زه په ځان پوه نه وم
ژوند مې و ، ليرې تښتيدلی رانه
د وخت سيلۍ

دبیلتانه سرود په ژبه راغله
مور له یو بل نه بیل شو
* * *
په دویم ژوند کي په زرمت کې ومه
خوب کي له تا سره وم
ما ژوندون نه غوښت
خو په زوریې راکړ
ما به ژړل
دوی خوشحالی کوله
ما سترګي نه پرانستې
ځکه له تا بیلیدم
پلار راته آس او یو ټوپک په نذرانه ومنل
په آس به ستا په لور مزل کومه
ټوپک به مات کړم
چې کینې خوروي
له میل یې تا ته غاړګۍ جوړوم
د ملا خور غږ مي غوږو ته راغی
ماوې ستا نوم یادوي
سترګې مې پرانستلې
خو ته به نه وې ما به بیا وژړل
ژړا مې زیاته شوله
ما یوه مینه غوښته
یوه دردمنه مینه
د مور د مینې لاس ورپورته کړمه
په هغه لاس کې
د دنیا مینې وې
دروغ مي نه زده

دمورغیږ کی می ته هېره شولې
آه، دمورکۍ غېږ خو نو تل هم نه وي
زه ځني ولويدمه
لکه پاچا چې هم له تخت، هم له وَطن ليرې شي
بېرته شوم ستا پ‍ه لټه
حواس مي ټول سره ګډوډ وو
تا په نوم پسي به ټول سترګي وو
مکتب مې پريښود
کتابو کې يې ستا نوم نه راښود
ما دزرمت باغو کي سترګي مرغان ټول وليدل
چې په نغمو کې ستا نوم واورمه
له بلبلانو څخه هم هېره وې
زرمت يو ښکلی ځای دی
با الا تشبهه لکه جنت داسې و
رڼو اوبو کې به مينځلې اوبه راغلې مورې ته
خو ته به نه وې
زه ترې ووتم
داستا په لټون
مادبابا پرپله پل کېښود بيا
دروغ مي نه زده
مابه ښکلو ته په ځير-ځير کتل
په دې اميد
چې ستا دحسن رڼا ووينمه
دکوه قاف ښکلې مې وليدلې
خو ستا دحسن جلوې نه وې پکې
ټولو مي مينه غوښته

خو زه وم ستا په لټون

*******

دا دی ترډېرو کلو وروسته تاته ورسېدم
خو له تا هرڅه هېر دي
یا دې په مینه خپل باور بایللی
زه هم پوهېږم چې اوس خلک مینه کفر بولي
خو موږ دبلې زمانې خلک یو
زه خو دې ښکلې شونډې نه ښکلوم
زه دې دتورو زلفو شپې نه غواړم
زه دې دښکلیو اننګیو ارمانجن نه یمه
زه دې دسترګو سمندر کې لاهو کېږمه نه
زه دې له سترګو یو دوه اوښکې غواړم
یو دوه دردمند ،یو دوه دمینې څاڅکي
زه یودردمند په مینه
زړه غواړمه*
راځه چې دواړه خپل ماضي ته ولاړ شو
دمینې لاس دې راکړه
او ما مې خپلې زمانې ته بوځه
له دې زمانه مې نور زړه تنګ شوی
بیا به وختونه تېر وي
هسې نه بل ژوند کې مې هېره نه شې

۱۳۸۳/۸/۱
کابل-څارندوی مېنه

*دغني خان له یوه شعر نه په الهام

## مات ستوري

وینم له تانه ،لاډېرې ښکلې
ډېرې سرې سپینې ،ډېرې آغلې
خو بې له تانه،باور پرې وکړه
نظر مې نه شي،په کومې بلې

***

زه رنځور پروت وم،تا دامساء کړم
دمړو له ډلې، تـــارا اجلا کړم
تا خو له سره یو ژوندون راکـــړ
دغه احسان دې څنګه ادا کـــړم

***

سپوږمۍ ته لاس کړم،ستوري را شمار کړم
څو رانه مات شي،څو بند په تار کـــړم
دابه ستـــا وړ وي او کـــه به نه وي
په دې سو چونو شپه را سهار کـــړم

***

سهار چې ولاړ، شم دګلو بڼ ته
څو ستا په شانې ګلونه بیل کړم
دپرخو څاڅکي سره راټول کړم
چې تا ته جوړ ترې ښکلی آمیل کړم

***

خو لمر را تود شي او ورک شبنم شي
وړانګې له ګله ،پرخې پـنا کـــړي
زه مــي دخپلې بې وسۍ ویـــر کړم
لکه یتیم چې څوک په ژړا کـــړي

***

دلمر شغلو ، نه لاسونه تاو کړم
وایم لمرونه ټول تا ته درکړم
خو وړانګې نه وي ، هغه هم ته یې
دعشق ګلونه، ټول تا ته درکړم

۱۳۸۳/۴/۴/ دازادۍ راډیو دفتر

*- مینې دې دومره فایده وکړه-لکه رنځور چې پر لکړه پورته شینه

## نـور

زه یې په سترګو کې کلام د مینې
د جبرائیل په لاس لیکلی، یو پیغام د مینې
زه په کې وحی ګورم
زه په کې حورې د جنت لیدای شم
زه په کې نور وینمه
زه اسم اعظم لیدای شم
زه په کې ځان وینمه
ځان راته لوړ ښکاري ډېر
په ځان وېرېږمه ډېر
هسې نه لویه دعوه وکړمه
چې زه یم ،زه یم
یوازې زه یمه
سحر یمه بس

۱۳۸۳/۴/۲۲ وزیر اکبر خان مېنه-د ازادۍ راډیو

استاد اسدالله غضنفر ته

# لپې لپې سمندر

پرون واخست لاس کې لمر، یوه سړي
کړ تقسیم یې برابر، یوه سړي

لپې لپې یې ویشه په ټولو باندې
و، تم کړی سمندر، یوه سړي

پاچا نه و، یو ملنګ غوندې سړی و
دانصاف تاج و پرسر، یوه سړي
په بشر باندې مین و لوی انسان و
نه یې غوښت د چا ضرر یوه سړي

په جنت کې یې کتاب مخې ته پروت و
یاداوه په کې بشر یوه سړي

په سپوږمۍ کې یې ستا حسن راته وښود
څومره تېز درلود نظـــر، یوه سړي

له سندرو نه پردی و، خو مین و
په کتاب بدل کړل زر یوه سړي

ښکلا ،مینه پیدا شوې له ښه خویه
دا سې ووې په منبر یوه سړی

یا مو وخت په کار تېرېږي یا په مینه
موږ ته وښود دا هنر یوه سړي

تروږمۍ کې یې تیندک وخوړ ،ونه لوېد
ترلاس ونیو ژرسحر ،یوه سړي

# پاس سپوږمۍ ده لاندې ته يې

پاس سپوږمۍ ده ،لاندې ته يې
زه يم تږى ته اوبه يې
په خيالونو کې مې ته يې
په فکرونو کې مې ته يې
په سندرو کې مې ته يې
په شعرونو کې مې ته يې
يې په ويښه مرورو ه
په خوبو کى را پخلا يې
په خوبونو کې مې ته يې
په رګونو کې مې ته يې
کله ستن ،کله مرهم يې
پرهرونو کې مې ته يې
يو خوږ درد مې په سينه کې
په دردونو کې مې ته يې
زه که ستا په زړه کې نه يم
خو زما په زړه کې ته يې
زما عقل ستا په لاس کي
نه پوهېږم چې ته څه يې
پاس سپوږمۍ ده ،لاندې ته يې
***
پاس په هسک کي خو سپوږمۍ ده
لاندې ځمکه کې نجلۍ ده

هغه پورته سپوږمۍ نه ده
هغه سیوری د نتکۍ دی
مخامخ ورته ولاړه
یوه سپینه شهزادګۍ ده
هغې عقل رانه وړی
دې حواس زما تړلي
دلته توره تروږمۍ ده
د دې لاس کې ډېوه ګۍ ده
زړه مې تنګ له دې نړۍ دی
ترې نه تاو تار د کمڅۍ دی
زما زړه کې نور سبک نه شته
پر وجود مې ګبڼۍ ده
دغه مینه څه کاني کړي
رانه هېر غم د ډوډۍ دی
دغې کوډې په ما کړي
له ما ورکه شنه مرۍ ده
له ټوپکه راوتلې
په ما مخامخ ګولۍ ده
د ښکلا تندر پرېوتی
زما د زړه پر کوټنۍ دی
سخت سفر مې دی په مخ کې
د پولادو مې څپلۍ ده
لاس تر زنې ورته ناسته
زما میني ته بدرۍ ده
د پاچا په لور مین یم

نیم دیدن په اشرفۍ دی
زما ژوند یې لاس کې واخیست
ورته وګورئ مسکۍ ده
پاتې ژوند مې په ضرور شو
لاندې ته یې، پاس سپوږمۍ ده

۲۹/ ۹/ ۱۳۸۳ازادۍ راډیو

## غــزل

خدایه چې غواړم یې ،هغه راځنې لیرې ګرځي
ټول رانږدې دي ،خو یوه راځینې لیرې ګرځي

که ګلاب نه یمه، د پوندې اغزی هم نه یمه
حیران په دې یم چې وږمه راځنې لیرې ګرځي

زه د خپل ځان پرخوا روان یم، رسید لی نه یم
په دې سفر کې مې سایه راځنې لیرې ګرځي

زما په زړه خو هسې هم بله لمبه د مینې
په کار مې نه ده که ډېوه راځنې لیرې ګرځي

ارمان مې ستا له اننګو په ژړا ته ویل یې
کاڼی درود یم ،آیئنه راځنې لیرې ګرځې

ثارندوی مېنه ۷-۳ – ۱۳۸۳

# نیمګړی سفر

مه، مه !درنه مات شو ، په راستۍ مې زړه درکړی دی
هسې هم ځپلی دی، زخمې دی ، غریب سترې دی

زه د پاکې مینې لاروی وم ،تاته راغلم اوس
پوه شوم نیمه لار کې یم، سفر مې لا نیمګړی دی

کوم پلو ته ولاړ شم، مادزړونو لاره ورکه کړه
دا چې پرې روان یمه دالاره ده ، که پړی دی

دالیونی نه دی چې لویدلی پاڼ ته ناست دی دا
ښکلو ازار کړی ،له جهانه موړ وګړی دی

دا چې په خاموشو شونډو وایي غېچ یې واخلو موږ
دا پټکی په غاړه ، دمرغاب ددریاب مړی دی

لاس وهم اوبو کې، اوبه تولې رانه خړې شوې
ارمان مې رانه ورک دی ،له ما دغو اوبو وړی دی

۲۷ / ۴ /۱۳۸۳

## خلک هسې وایي

وایي چې زه په تا مین یم ،خلک هسې وایي
ته مې پاچا زه دې وطن یم خلک هسې وایي

زه او ته یو وخت یو جانانه،خو راغلي نه یو
دلته مې روح نه شته ،تش تن یم، خلک هسې وایي

دوی وایي ښکلو یې رنګ سپین کړ،دمرګ کومې ته ځې
خو زه په ژوند دمرګ کفن یم خلک هسې وایي

که ګړګوتي زلفې دې شپې دي،ښکلې یاره نو بیا
زه سحر نه یم ،ماخوستن یم، خلک هسې وایي

ازادي راډیو -وزیر اکبرخان مینه ۹ /۵ /۱۳۸۳

# د مينې داغ

ليرې !له ما ليرې !اوس له زړه نه مې وتلې يې
زه دا ستا له زلفو ،ته له خياله مې لوېدلې يې

ما دې پرستش کاوه ،زه دې وم پر روح مين
ماوې فرشته يې ،ما وې ته ډېره سپېڅلې يې

ته د روحاني مينې په په قدر باندې پوه نه شوې
ځکــه د ســـتا يلو له مقامــه پرېوتلې يې

پاک به کړم له زړه نه ستا د مينې داغ په اوښکو زه
ته د هوسونو يوه بل جهان ته تللې يې

زړه ته به د روغ وايمه ،زر به دې ترې هېره کړم
وايم به سپوږمۍ شوې ته ،آسمان ته بر ختلې يې

۱۳۸۳/ ۵/ ۱۲

## داوبو په ائينه کې

اوس مې شعرونو ته الهام دا ستا له سترګو اخلم
دجبرائيل دخولې کلام دا ستا له سترګو اخلم

دا ستا له سترګو بهر وېښ يم لکه ستوری پاتې
درځم خوبونه نا تمام ،دا ستا له سترګو اخلم

دا ستا دناز په توره مړ يم، سترګې خلاصې پاتې
چې په ځير ګورم، انتقام دا ستا له سترګو اخلم

چې يو ځل وګورې په مينه، مينه، مينه ماته
ګلې ! همدغه يو انعام دا ستا له سترګو اخلم

په ائينه کې داوبو دې تصوير ورک شو رانه
دمينې ژوند ته مې مرام دا ستا له سترګو اخلم

په يوه ورکه پسې وخت لټوم، نه يې مومم
کله سحر، کله ماښام دا ستا له سترګو اخلم

۹ /۵/ ۱۳۸۳ جنوبي سالنګ

# ته او سپوږمۍ

باسم دې له خیاله، دزړګي په سر مې لکه یې
ځومره نرۍ ستن یې ، پرهرونو کې مې ورکه یې

زه دې حیران کړی، په دوه لارې کې دمینې یم
کله دزقومو ، کله-کله دشات څکه یې

زه خو یو پښتون یم، زما مینه بارتري نه ده
ته خو له نازونو ،اداګانو څخه ډکه یې

زه دې ښکلا نه ګورم ،زه دې یم پر روح مین
ګوره چې خفه نه شې ،ښکلې خو بې شکه یې

ته مې تنها بد لیکې ،ښو ته مې دې پام نه دی
خیال کې مې پرکینه اوږه ناسته ،ملایکه یې

دا ښایي ستا کبر و ،یا به ستا نازونه وو
اوس چې سپوږمۍ پورته ده او ته لاندې پر مځکه یې

۲۵ /۴ /۱۳۸۳ څارندوی مېنه

# یم کمزوری له تا لیرې ځم انسانه

اوس مې زړه دچا لپاره نه درزېږي
اوس دچا له غمه ویښ ټوله شپه نه یم

اوس دچا په انتظار کې ستړی نه یم
اوس ژړاوې راته مکر غوندې ښکاري

اوس مې زړه دچا ښکلا لړزوی نه شي
په کېٍ (خو )له ډېره لیرې راته ښکاري

اوس بې غمه سترګې پټې کړم، ویده شم
تر سهاره هیڅوک نه راځي په خوب کې

***

په ماڅه که دبلبلو اوښکې څاڅي
په ماڅه که مرغۍ ګرځي بې وزرو

په ما څه که میر دزاڼو یې وژلی
په ما څه که الوت نه شته دکوترو

له ښکاري سره اوس زه په یوه نظر یم
زرکې ښکلې نه دي، غوښې یې خوږې دي

زه خو ځمه، لنډې لارې لټومه
زما یې څه که لارې شنې ، که تکې سرې دي

په ما څه که له بوډۍ ده لاره ورکه
په ما څه که بوډا ولوېده په ځمکه

په ما څه که يې امساء ترې اوړکو يوړه
څه خبر يم په چا ولوېدله ټکه

په ما څه که د سوالګر کچکول لوېدلی
په ما څه که رويو سپيو دی داړلی

احساسات دي رانه ليرې تښتېدلي
عواطف مې له خپل ذهن نه مينځلي

اوس غمونه مصنوعي راته ښکارېږي
او پردۍ ټولې خوښي راته ښکارېږي

ښاپېريانې له ديوانو سره ناځي
فرښتې ابليس ته وايي راته ګرانه

اوس په هيچا اعتبار کولی نه شم
زه يم نوی راستون شوی له خپل ځانه

دافکارو په ځنګله کې لاره باسم
يم کمزوری ،له تا ليرې ځم انسانه

اوس مې زړه لکه چې نه شته ،خبر نه يم
او که وي ،ټوټې-ټوټې به چېرې پروت وي

تا يې وانه وربد اواوز دماتېدلو
ستا وروستۍ خبرې دومره اثري وې

۲۴ /۳ /۱۳۸۴ کابل-څارندوی مېنه

# دلته به لمر نوره رڼا ونه کړي

دلته به لمر نوره رڼا ونه کړي
لمر به له ټولو څخه مخ واړوي
باران به هیڅکله را ونه وري
چې بزغلي دمیني وټوکوي
دلته به څوک مینه ونه کړي نوره
دلته به څوک په چا مین نه شي بیا
دلته به هر یو ،بل نه مخ اړوي
دلته به ښکلي وي
خو ښکلو ته به نه ګوري څوک
دلته به سترګې وي
خو سترګې به دښمن لټوي
دلته به دوه لاسونه هر یو لري
خو دیتیم په سر به نه تېرېږي
بس له کوترو به وزرونه باسي
زړونه به وي
بې زړه به هیڅوک نه وي
زړونه به ټول د استا دزړه غوندې وي
بس له کینې به ډک وي
مینه به نه پېژني
چا ته زمونږ دمینی ونه وایې
تا خو نېکي او مینه دواړه یو وړل

۱۳۸۳/۱۰/۱
کابل-وزیراکبر خان مینه

# نېکمرغي

ځینې څومره بختور وي
چې ماښام ستړي ستومانه
له کارونو راستانه شي
مور ولاړه دروازه کې
انتظار یې دراتلو کړي
زویه !ډېره مې سودا وه
زویه !ښه شولې چې راغلې
دوی لانه پوهیږي وایي
څومره ستړی یم ،خواشینی
چې د مور سیوری پرې خپور وي
نو ستړیا به شي له کومه
نیکمرغي خو وي همدغه
ژوند خو داوي د دنیا

۱۳/ ۸/ ۱۳۸۳ کابل- ځارندوی مېنه

# غــزل

مالا خپل ځان ته ستا دتلو خبره نه ده کړې
ګلان ژوندي دي ،لاوږمو خبره نه ده کړې

زه خو دميني يوه بله زمانه کې اوسم
مادوصال،ما دبوسو خبره نه ده کړې

هسې نه ټوله دنيا کرکه شي،کينې خورې شي
چاته مې ستا دناکردو خبره نه ده کړې

ورته حيران يمه ،باور يې اوس په مينه وکړم
لا خو يې ماته په پښتو خبره نه ده کړې

په تا هم ګرانې دي،زما غوندې ستا ښکلې سترګې؟
آينې ګورم،آيئنو خبره نه ده کړې
لمر لا هماغسې رڼا دی،تياره شوی نه دی
تا دانکار ،تا دوعدو خبره نه ده کړې

۲۹/ ۸/ ۱۳۸۳ وزير اکبرخان مېنه



ښاغلی علم ګل سحر، چې د "پارپال ځرېوته" خیالي تصویرونه یې په ستدرو اړولي دي، دا ځی د سپوږمۍ د بې ازارې رڼا ننداره ته مو وربولي

شعر لکه یو ښکلی خوب داسې دی، چې پر ویښو ښیو هم خپل مرموز اثر ښیندي. سحر په ناسې د "پارپال ځرېوته" په خیالي ننداروکي لیدلی وي، خو په "پاس سپوږمۍ ده، لاندې ته یې" کې به له یو بل سحر سره مخ شئ.

انسانان لږ و ډېر په ظاهر او باطن کې له یو - بل سره توپیر لري، خو دومره نه. هر څوك د خپلې پیمانې په اندازه په غم غمجن، په خوښی خوښ او له ښکلا څخه کیف اخیستونکی دی.

ګرانه لوستونکیه! د سحر د شعر په جهان کې به مینه - مینه وګرځه. خامخا به ځای - ځای ستا له زړه راغلی وي. داسې څه به بې ویلي وي چې ستا په زړه کې به درګرځېدلي وي او ته به یې له هنري کولو عاجز یې. ښه شعر اروا او ته خلا وربښي. ښعر شعر احساسات، عواطف، ذوقونه روزي او ښه شعر انسان له بدرنګیو څخه ژغوري.

د همدې کتاب شاعر ښاغلی علم ګل سحر یو خوږ او صمیمي انسان دی او دا شعرونه د ده د ښکلي طبعې زېږنده دي او د کاغذ پر مخ په هم کیفیت دروليږدوي. د سپوږمۍ په شپه به مو د شنه اسمان له سپوږمۍ څخه خوند اخیستی وي. همدا سپوږمۍ به اوبو کې هم یو بېل کیف او خوند لري. همداسې د شاعر له زړه او احساسه راوتې شعرونه د کاغذ پر مخ هم ژوند کوي، د شاعر شعرونه ستاسې په ژوند کې هم خوند او رنګ ښیندلی شي

راځئ چې سحر ته د لا ډېرو ښکلیو شعرونو د پنځولو دعا وکړو.

په مینه او ډېر ادب

کاروان

کابل. خیرخانه مېنه

۲۰۰۵/۱/۱۵